اخ !ځواني

نجيب الله پيمان

سهار وختي چې له خوبه پاڅيدم د اوداسه اوله لمانځه تر اداکولو وروسته مې لږ څه د کور کارونه هم ترلاس تيراوبير کړل خو وروسته بيا د خپل کورس په لور وخوځيدم درس مو ويل بيرته هم راغلم چاي مو وڅکه او سيده د خپل کار د ددفتر په لور وخوځيدم که څه هم ستونی مې له تيرې شپې راهيسې لږ لږ تخنيده دفتر ته له رسيدو سره سم مې په سر کې د خپلې شعبې پر مخ سپينې
ځړيدلې دړې ته وکتل چې زما نوم پرې د لوي څارنوالۍ ته د عبدالجبار ثابت کنفرانس ته په شنه مارکر ليکل شوی وو.

پرته له څه ويلو خپل کمپيوټر ته کښيناستم او خپل بريښنا ليک مې وکوت د
هيواد او نړۍ خبرونه مې هم تر نظر تير کړل او د ډوډۍ تر خوړلو لا دمخه مې د ماسپښين د لمانځه لپاره اودس وکړ اوور پسې په دفتر کې د خوړو اوږدې خونې ته د مامول په څير وخوځيدم ډوډۍ مې وخوړه، د ډوډۍ پر مهال هم يو بوتل شړومبې په سر واړولې په دا سې حال کې چې يو ه
ملګري غوښته دغه شړومبې په مستو بدلې کړي ما ورته وويل چې دغه ماته راکړه بس نقد لس ګون مې پرې ورکړ او دغه توروې مې په سرواړولې او ترهغه وروسته د لمانځه د اداکولو په موخه د مسجد په لور وران شوم لمونځ مې وکړ او ورسره سم بيرو ن را ووتم اود څارنوالۍ په لور د خبر د جوړيدو په موخه وخوځيدم بس ټکنده غرمه و ه د لوی څارنوال کنفرانس په يو شمير شخصي تلويزونونو کې د سريالونو خپراوي او د ولسي جرګې د ۲۲ تورنو وکيلانو د نه راتګ او د شيرپور د ځمکو د پيسو دنه تاويل کونکو په اړه خبرو ته ځانګړې شوې وو.

شيبه پس کنفرانس پاي ته ورسيد خو زه د غرمې يو بوتل توروو او د غرمې وريجو داسې تږي کړي وم چې ان ژبه مې وچه شوې وه بس تابه ويل د جوزا د مياشتې روژه ده ،بل لورته په څارنوالۍ کې د
څښلو اوبه هم نه وې بس دومره تږي شوم خو کله چې دفتر ته را ورسيدم بس د تيرو دوه درې ورځو را هيسې د د فتر رسيپفشن ته څيرمه د يخو اوبو فريزر ايښي وو بس په سر مې دوه ګيلا سه يخې اوبه واړولې او په خپل کار مې پيل وکړ خبر مې په بيړه بيړه جوړ که تر جوړيدو ورو سته
کورته ولاړم په کور کې هم ميلمانه راغلي، سر له ماښامه مې په زړه ساړه ننوتي وو د ثور د مياشتې پدې توده ورځ مې هم داسې يخني کيده بس تابه ويل چې د ژمي په سړه ورځ د اوبو مينځ ته اچولي يم.

د څو پيالو پرله پسې چاي څښلووروسته مې لږ ځان تود شو د مليمنو په
وړاندې مې يو ه کمبله هم له ځانه تاوکړه بس لنډه دا چې د ماښام ډوډې تياره شوه موږ خو لاهم کليوال ژوند لرو اود کورنۍ ټول غړي د ډوډۍ خوړلو په موخه يوې خونې ته راټوليږو زما خونه چې په دوهم پوړ کې دي له لاندني پوړ نه يو ماشوم اواز وکړ چې د ډوډۍ تياره ده د ميلمنو له شرمه مې ډيره هڅه وکړه چې لاندې پوړ ته د ډوډۍ د خوړو په

موخه کوز شم بس له ځان سره مې دا وپتیله چې بس یوائې د میلمنو د درناوي لپاره باید د میلمنو د درناوي په موخه کوز شم او دوپاره به خپل خونې ته پورته شم.

لدې سره سم مې نابېره د کور لویې دړې ته پام شو چې پر مخ خلاصه وه ، نو د میلمنو تر درناوي وړاندې مې له ځانه سره وپتیله چې باید د کلا خلاصه دروازه وتړم ،نو ورو د دروازې په لور وخوځیدم دروازې ته له رسیدو سره سم مې په زړه داسې ساړه ننوتل چې ځاي پر ځاي کنبیناستم نور مې په تن کې د او چتیدو سیک نه وو بس دومره مې وکړه چې ځان تر خپلې خونې ورسوم خونې ته له ننوتو مې په زړه داسې ساړه ننوتي وه چې له که د ونې پاڼه رېږدیدم ایله مې دومره وکړه چې خپلې میرمنې ته مې پر ځان د څو بړستنو د اچولو اشاره وکړه او تر درې بړستنو لاندې ایله ترلږ مودې وروسته تود شوم نور پر ځان پوه نه شوم تر یوې شیبې وروسته مې میرمن سرته ناسته وه او دوه ګولۍ یې په لاس کې را ته نیولیې وې دا مهال زه د خولو په دریاب کې داسې ډوب وم چې هیڅ تصور یې نه کیده.

پرله پسې مې دوه پیالۍ چاي او دوه ګولۍ وخوړې خو دا مهال لږ ښه وم او په تن کې مې لږ
راحت احساس کاوه د تیرماښام ټولې پیښې مې یو پر بل پسې په ذهن کې تاو راتاو شوې هرڅه فکر مې وکړ چې ددې کار لامل په ډاګه کړم خو پدې کار وانه توانیدم او تل مې په فکر کې دا خبره راتله چې کله خو هم په تا باندې دا ډول پیښه نه وه شوې ، که څه هم ما لا د خپل ژوند څو دیرش پسرلیه تر شاه پریښې وو خو دا ډول حالت را باندې تردې وړاندې هیڅکله هم نه وو راغلی هڅه مې وکړه پیښې لامل ځان ته په ډاګه کړم په ذهن مې ډیر بوج راوست نا څاپه مې په ذهن کې دا خبره را یاده شوه چې اخ !
ځواني..........

نجیب الله پیمان